Preview (1 / 10) - ketabton.com

په نړۍ کې اووم تر ټولو ډېر پلورل شوی کتاب

افغان کتابتون



جنايي ناول

# او بيا هېڅوک نه وو

اګاتا کريستي

ژباړن: جبار فراز

Scanned with CamScanner

Preview (2 / 10) - ketabton.com



## اګاتا کریستي

کره کتونکي په يوه خوله
کريستي د جنايي-پوليسي
ناولونو يوه بې جوړې ليکواله
بولي او په نړۍ کې د جنايت
په ملکه باندې مشهوره ده.

اګاتا مري کلاريسا ميلر

Agatha Mary Clarissa Mille-مشهوره په اګاتا کريستي- په ۱۸۹۰م کې د انګلستان په دون شاير سيمه کې زيږېدلې ده. همدا د خاړپوځو سيمه يې په خپلو ډېرو اثارو کې د حوادثو د ميدان په توګه تصوير کړې ده. د دې د شهرت لپاره به همدومره کافي وي چې ووايو اثار يې د نړۍ په ۱۰۳ ژوندیو ژبو کې مطالعه کېږي او تر څلور سوه ميليونه ډېر ټوکونه يې په لاسونو کې کښته پورته کېږي. د دې ډېر مشهور جنايي داستان (قتل په اورګاډي کې)

Scanned with CamScanner

Preview (3 / 10) - ketabton.com



نومېږي چې د خپل عمر پر ٤٤ کال يې ليکلې دي. پاته دې نه وي چې نوموړې ته د جنايي او پوليسي پېښو د دقيق او منطقي سکښت او اوډون له امله د (Queen of crime) يا (د جنايت مليکه) لقب ورکړل شوی دی. د جنايي او پوليسي داستان د دنيا دغه ځلاند ستوری د ۱۹۷٦م د جنوري پر دوولسمه ورځ راولوېد او بيا هېڅکله تر سترګو نشو.

د دې نامې او تلپاته جنايي ليکوالې د ژوند ځينې صحنې خپله د همدې د قلم له څوکې ننداره کړئ:

له چارلز ډيکنز او جين ستين سره مې ډېره جوړه وه، شرلوک هولمز Sherlock Holmes مې بيا تر ټولو ليکوالانو خوښ وو... نژدې دوه کاله مې د هنر د يوې مينه والې په توګه د پيانو تمرين وکړ، فرانسوي ژبه هم همداسې... په شپاړس کلنۍ کې مې يو څه وخت د سندرو ويلو زدکړه هم وکړه. ښوونځي ته ډېره نه ولاړمه، کور کې مې له خپلې مور څخه رنګارنګ کارونه لکه اشپزي او نور بېلابېل درسونه زده کړل (يو لامل يې د جنګ پړاو راتګ هم کېدای شي).

لومړی واده مې د ژوند پر پنځه ويشتم کال په ۱۹۱٥م کې د هوايي ځواک له يوه افسر سره وکړ. نوم يې ډګروال آرشي بالډ کريستي Colonel Archbald Christie وو. د ژوند دا بدبخته مرحله مې ديارلس کاله وغځېده. خو له اخ و ډب، جنګ جګړو او اروايي ستونزو پرته بل په کې هېڅ هم نه ول.

په ۱۹۲٦م کې مې مور له لاسه ورکړه. دا ډېره دردوونکې پېښه وه... هماغه کال پر يوه بله ښځه د مېړه د مينېدو شاهده هم شوم. د ۱۹۲٦م د سپټمبر پر اوومه مې د خاوند کور د تل لپاره پرېښود او بيا هېڅکله ورنغلم. له همدغې ځوروونکې پېښې څخه د تېښتې پر مهال مې موټر-په داسې حال کې چې د اضطراب او اروايي نارامۍ په سمندر کې غرقه وم-له يوې لويې ګارې(تيرې) سره وجنګېد... زما د لټون او موندنې هڅې پيل شوې، خو تر

Scanned with CamScanner

Preview (4 / 10) - ketabton.com



دوو اوونیو یې هېڅ درک هم ونه لګاوه! زه د یارک شایر په یوه هوټل کې په مستعار نامه اوسېدم. د دغه ټکر له امله د میرګیانو ناروغي راولوېده، خو خلکو داسې وانګېرله چې ګواکې زه له دې لارې په هغه کال کې د خپل وروستي ناول د مشهورېدو هڅه کوم، خو متخصصو ډاکټرانو په ما کې د دغې مریضی شتون تایید کړ.

څلور کاله وروسته مې د اکسفورډ پوهنتون له استاد او مشهور څمکپېژندونکې سرماکس مالون سره واده وکړ. دغه واده مې د لومړي هغه سرچپه ډېر بریالی، نېکمرغه او له خوښیو مالامال وو. ما او مېړه مې دواړه له دې خورا ارام ګډ ژوند څخه ډېر خوند اخلو، مېړه مې درې لوی کورونه لري: لومړی یې ډېر غټ او ښایسته دی چې د South Devon په Greenway کې د وارت سیند پر غاړه پروت دی، دویم یې اکسفورډ ته نژدې په ولینګټن کې او دریم یې کوچنی دی چې د لندن په چلسي کې ودان دی او په یاد ښار کې د اوسېدو پر مهال کار څنې اخلو....

... ما همېشه او د هر تر لاس لاندې کتاب د لیکلو پر مهال فکر کاوه چې همدا به مې وروستی اثر وي او د کوم بل کتاب د لیکلو ذوق او توان به ونه لرم! په داسې حال کې چې خپله مې هم سر نه خلاصېدی چې د رنګرېز خم ته ورته یم!!!

... که په دې پوهېدای چې څارنوال پوارو (د لیکوالې د جنایي اثارو خیالي اتل) به دا دومره کلونه په ځان پسې کش کړای شم نو په داستانونو کې مې هومره ځوان او تکړه انځوراوه چې ژر بوډا او کمزوره شوی نه وای!

زه خپل ناولونه سهار مهال او-ښایي زړه ته مو ونه لوېږي- په یو داسې حمام کې لیکم چې د ویکټوریا د عصر په سبک جوړ شوی او ډېر مجهز دی. ایا پوهېږئ ولې؟ ... ما تل انګېرله چې همدا تر قلم لاندې کتاب به مې وروستی اثر وي، هر څه چې مې په کارېږي-له چای او قهوې نیولې تر قلم،

Scanned with CamScanner

Preview (5 / 10) - ketabton.com



کاغذ او مېوې پورې- ټول تر لیکنې پیلولو مخکې همالته ځان ته اماده کوم ... که رښتیا راباندې وایاست نو په حمام کې څوک د چا مزاحمت نه کوي!

کله چې لیکلو ته تیاره شم، لومړی پلې گرځم او د تر لاس لاندې موضوع په باب مې ټول فکرونه او خیالات سره راغونډ او متمرکزوم. د لومړي کتاب طرحه مې په دارت سیمه کې د گرځېدو پر مهال جوړه کړه. دغه کتاب The Mysterious Affair at Styles نومېږي.

... زما به تل له خور سره د یوه پولیسي داستان د سختۍ او اسانۍ پر سر شخړه وه... بریالیتوب مدام د هڅې او تلاښ پوروړی دی، مگر د بخت ونډه هم باید له پامه ونه غورځول شي. یانې چانس هم ډېر مهم دی....

## ځینې اثار یې:

او بیا هېڅوک نه وو (همدا کتاب)

قتل په اورگاډي کې، جبار فراز ژباړلی

پټ دوښمن

د راجر اکرویډ وژنه

څلور لوی څواکونه

تراژیدي په درېیو پردو کې

په وریځو کې وژنه

د الفبا په ترتیب وژنه

وژنه اسانه ده

**له شل نړیوال لیکوال او شاعران، کتاب څخه**

Scanned with CamScanner

Preview (6 / 10) - ketabton.com

# لومړی څپرکی

د اورګاډي په لومړۍ درجه ډبه کې قاضي وارګرېو[1] چې تازه تقاعد شوی وو، سګرېټ ته تیلی وواهه او د ټایمز ورځپاڼې پر سیاسي برخه یې نظر وځغلاوه، لنډه شېبه وروسته یې بېرته پر مېز وغورځوله او له کړکۍ دباندې یې سترګې وګنډلې. اورګاډی دا مهال په سومرسیټ[2] کې روان وو. لاسي ګړۍ ته یې وکتل؛ ډیوون[3] ته دوه ساعته لار پاته وه. د ذهن پر پرده یې ټول هغه شیان تېر کړل چې په ورځپاڼه کې یې د انډین ایلنډ[4] جزیرې په اړه لوستي ول. دا جزیره په پیل کې یوه امریکایي میلیونر رانیولې وه؛ هغه هم له بېړۍ‌چلونې سره لېونی مینه لرله او هم هغه ښکلې ماڼۍ زښته پر ګرانه وه چې په دغه وړه جزیره کې یې له ډېوون ساحل سره نژدې جوړه کړې وه، مګر دا چې له بده مرغه درېیمې ماینې ته یې د ده دا شوق خوند نه ورکاوه، نو هغه وو چې پلورلو ته یې مجبور

[1] Waregrave
[2] Somerset
[3] Devon
[4] Indian Island

Scanned with CamScanner

Preview (7 / 10) - ketabton.com



شو او په ورځپاڼو کې يې د يادې جزيرې او پکې ولاړ شاندار قصر د پلورلو اعلانونه وکړل. ډېر کم وخت وروسته اوازه شوه چې د ښاغلي اوون[1] په نامه يوه کس رانيوله.

خو د دغې جزيرې او مانۍ په اړه د رنګارنګ اوازو لړۍ همدلته غوڅه نشوه، بلکې لا يې زور واخيست. مثلاً:

انډين ايلنډ فلمي ستورې ګابريل ټرل[2] رانيولې ده! د بېزي په نامه ورځپاڼې وليکل چې نوموړې ياده جزيره د ازادۍ لرلو؟؟! په نيامت رانيولې ده. يا هم دا چې هغه هلته خپل عسل مياشت تېرول غواړي! ځينې نور بيا په دې اند ول چې دغه جزيره سمندري ځواکونو پېرلې او غواړي يو لړ پټې ازموينې پکې وکړي! لنډه دا چې دا موضوع په يوه ورځني بحث بدله شوې وه.

قاضي وارګرېو له جېبه يو ليک راوايست. د ليکونکي د لاس خط تر ډېره بريده سم نه لوستل کېدی، مګر هلته-دلته يې بيا ځينې توري په حيرانوونکې بڼه روښان ول:

ګران لارنسه... کلونه کېږي حال نه دربانديې لرم... بايد انډين ايلنډ ته راشئ... ډېر يو جادوګر ځای دی... پر ګڼو مسايلو به سره ورغږېږو... تېر وختونه... له طبيعته به خوند واخلو... ۱۲:۴۰ له پډينګټن[3] څخه... په اوک برج[4] کې درسره وينم....

ليک د کانستېنس کالمينګټن[5] په لاسليک پای ته رسېدلی وو.

قاضي وارګرېو پر حافظه زور راووست تر څو ور ياد کړي چې وروستی ځل يې مېرمن کانستېنس کالمينګټن چيرې ليدلې وه. ښايي اووه... نه، اته کاله مخکې. وروسته ايتاليا ته ولاړه تر څو د هغه ځای پر طبيعت، خلکو او غوړ لمر خوند واخلي. بيا قاضي واورېدل چې نوموړې له ياد هيواده د لا تودې هوا

---

[1] Oven
[2] Miss Gabrielle Turl
[3] Padington
[4] Oakbridge
[5] Constance Culmington

Scanned with CamScanner

Preview (8 / 10) - ketabton.com



تجربه کولو په نیامت سوریې ته تللې وه. هغې د لمر له گرم حمام سره بېحده مینه لرله.

له ځان سره یې سوچ وکړ چې کانستېنس کالمینگټن ټیک د هماغه خلکو له ډلې څخه ده چې یوه جزیره وپېري او بیا وروسته رنگارنگ اوازې خپرې کړي! قاضي په داسې حال کې چې د خپل فکر له ډول څخه خوښ او راضي ښکارېد سر وښوراوه... او شېبه وروسته خوب یووړ.

***

وېرا کلېترن[۱] په دریمه درجه ډبه کې له څو تنو نورو مسافرو سره ناسته وه. سر یې شا ته تکیه کړ، سترگې یې پټې کړې او په فکر کې ولاړه. نن ډېره گرمه او په اورگاړدي کې د سفر کولو ورځ نه وه! گوندې سمندر ته له رسېدو سره سم هوا هم لږ یخه شي! د دغې دندې په ترلاسه کولو کې یې واقعاً بخت کار کړی وو. اوس یې رخصتی هم ښې او پرځای تېرولای شوای. په رخصتیو کې د یوه وړ کار پیدا کول ډېره گرانه وه او ان د کارموندنې ایجنسی هم ورته عاجزه وې. اخیر دا لیک راورسېد:

«اسناد دې د ښځو لپاره د کارموندنې یوې ایجنسي راولېږل. داده یم چې ستا په باب د هغوی مالومات خامخا کره دي. هر څومره معاش چې وغواړې په ډېره خوښي به یې درکړم. د اگسټ پر ۸مه نېټه درته په تمه یم. د پډینگټن د ۱۲:۴۰ بجو ټرېن ونیسه. د اوک برج په تمځای کې به زموږ کس هرکلي ته درشي. د جیب خرڅ لپاره مې یځه پونډه په پاکټ کې درته ایښي دي.

په درښت!

یونا نانسي اوون»

پر پاکټ دا پته لیکلې وه: انډین ایلنډ، ستیکل هېون، ډیوون.

---

۱ Vera Claythorn

Scanned with CamScanner

Preview (9 / 10) - ketabton.com



انډین ایلنډ! عجیبه ده! هماغه ځای چې نژدې ټولې ورځپاڼې پر ډغېږي او نوم و کیسې یې هره خوا خپرې دي. که څه هم طبعاً به یې اکثره حقیقت ونه لري، مګر دا بالکل رښتیا ده چې هلته ولاړ کور یوه میلیونر جوړ کړی او د اوازو له قراره یې ساری ډېر کم موندل کېږي.

وېرا کلېترن چې د ښوونځي تازه خلاص شوي کړاوجن پړاو ښه سمه سترې کړې وه، له ځان سره په سوچ کې شوه: «په یوه درېمه درجه ښوونځي کې د سپورټ استادي مې ولاکه له شان سره ښايي... کاشکې مې په یوه بل غوره مکتب کې دنده لرلای.»

وروسته یې یودم په بدن کې یوه یخه څرېکه تېره شوه، له ځان سره وویل:

- بیا هم بختوره یم چې لږ تر لږه همدا دنده خو لرم، ځکه خلک معمولاً له هغو کسانو ښه نه وړي چې د دولتي ډاکټرانو تر تحقیقاتو لاندې راغلي وي. البته که څه هم زه خپله ډاکټر له هرې ګناه و ملامتی خلاصه بللې یم!

ور یاد شول چې ډاکټر په خپل راپور کې ان د دې ذهني حضور او زړورتیا ستایلې وه. تر دې نو بالا ښه راپور نشوای جوړېدای. بل دا چې مېرمن همیلټن هم پر مهربانه وه او ښه چلند یې ورسره کاوه، بس یوازې هوګو[1](مګر دې باید هوګو نه وای ورياد کړی!) ناڅاپه له دومره ګرمۍ سره-سره ولړزېده او ویې ویل کاشکې سمندر ته نه تلای. د سترګو مخې ته یې یو روڼ انځور راښکاره شو:

سیریل[2] اخته وو مخ د هغې تېږې پر خوا یې لامبو وهله او سر یې پورته و کښته کېدی... کښته و پورته کېدی. سره له دې چې په نوموړي پسې ور رسېدل یې زړه ته نه لوېدل، بیا یې هم په سړه سینه تر شا لامبو ورپسې وهله... تک شین او تود ژور سمندر... سهار مهال به د سمندر پر غاړه هوګو ناست وو... هغه هوګو چې ویل یې له دې سره مینه لري... دې باید د هوګو په اړه فکر نه کولای....

---

[1] Hugo
[2] Cyril

Scanned with CamScanner

Preview (10 / 10) - ketabton.com



سترګې يې پرانيستې او په تروشه تنده يې مخامخ ناست نارينه ته وکتل. هغه دنګه ونه، توربخن مخ، روښانه سترګې-چې تر عادي حالت زياتې سره نژدې ايسېدې- او يوه داسې خوله لرله چې ځانخوښې او بېرحمي ترې ښکارېده. دې له ځان سره وويل:

- په شرط سره وايم چې دا سړی يوه په زړه پورې او داسې ځای ته روان دی چې ډېرې پېښې به پکې وشي....

***

فيليپ لمبارډ[۱] مخامخ ورته ناسته نجلۍ په يوه تېز نظر داسې وارزوله:

«پوره-پوره زړه کښونکې... تر يو بريده د ښوونځي ښوونکو ته ورته ده... د ساړه دماغ څښتنه او داسې انسانه چې په مينه او جګړه دواړو کې خپلې ګټې خوندي کولای شي.» د لمبارډ زړه غوښت چې له هغې سره... تنده يې ګونځې کړه. نه! په دې شيانو کې د چورت بندولو وخت نه دی. بايد خپل ټول فکر يې پر دنده راغونډولای. له ځان سره يې سوچ وکړ:

- اصلي کيسه څه وه؟

هغه يهودی د ګوره زوی هم خورا عجيب سړی وو. ده ته يې ويلي ول چې:

- تورن لمبارډه چابک پرېکړه وکړه: غواړې يې کنه؟

ده له ځان سره تر يو څه فکر کولو وروسته ور غبرګه کړې وه:

- سل روپۍ، هن؟

دا جمله يې په دومره بې پروايي تر خوله رااېستلې وه، لکه سل روپۍ چې بېخې هېڅ په نظر نه ورځي. سل روپۍ! هغه هم په تېره بيا په داسې حالاتو کې چې واقعاً يې د يو څه ښو خوړو د رانيولو توان نه درلود. په هر صورت، دا لعنتي يهود يې نشوای غولولای. د يهودانو تر ټولو بده ځانګړنه همدا وه چې د

---

[۱] Philip Lombard

Scanned with CamScanner

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/3Oy8OzB8E3h

*Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.*